2 017550 139621

# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د سنبلې څلورمه | د ۲۰۱۹ د اګسټ ۲٦مه | ٤۲۰مه ګڼه

## هېواد

۴ مخ

### افغانستان

د افغانستان ۷۵ سلنه خلک په کرنه او د څارویو پر روزنه بوخت دي او د هېواد ۳۴ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکتور څخه لاس ته راځي.



# راتلونکې ولسمشریزې ټاکنې؛

## د امنیتي ستونزو له امله به د ټاکنو په ورځ سلګونه مرکزونه تړلي پاتې وي



۳

### ټاکنې چېرته کېږي او څوک پکې برخه اخلي؟

۲ مخ

### پلان تحرکات غرض اداره جنګ تحریماتی؛ داستان «بوینګ مالیزیایی»

۲ مخ

### هانکانګ له زورزیاتي څخه په ډک ښار نه شي بدلېدای

۳ مخ

## په بادغیس کې د خټکیو حاصلات د تېر کال په پرتله دوه برابره ډېر شوي دي



د بادغیس د کرنې ریاست وايي، سږ کال په دغه ولایت کې د خټکیو حاصلات د تېر کال په پرتله دوه برابره ډېر شوي دي.

د دغه ریاست د چارواکو په خبره، روان کال د وچکالۍ د رفع کېدو او همدارنګه د طبیعي افتونو د نشتون له امله په دغه ولایت کې د خټکیو او هندوانې حاصلات ښه شوي دي.

د بادغیس د کرنې ریاست سرپرست عبدالحلیم ساجد ویلي، چې د پلور د بازار او د حاصلاتو د ساتلو لپاره د سړو خونو نشتوالي په دې برخه کې جدي ستونزې رامنځته کړې دي. هغه زیاته کړې: «دمګړۍ د خټکي د لېږد او زېرمې په برخه کې په بادغیس کې ستونزې شته او په دې برخه کې ځانګړې کار نه دی شوی. د دې له امله چې ډېری خلک له ولسوالیو مرکز ته بې‌ځایه شوي، د قلعه نو ښار کې د خربوزې پلور ته تقاضا ډېره ده».

## په لوګر کې د بهرنیو ځواکونو هوایي برید ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړولې ده

د لوګر ځایي اوسېدونکي او د ولایتي شورا غړي وايي، د دغه ولایت د پل علم ښار په بابوس کلي کې د بهرنیو ځواکونو د هوایي برید له امله یو کس وژل شوی او پنځه نور ټپیان دي.

د سرچینې په خبره، د برید زیانمن ټول ملکیان دي چې ښځې او ماشومان هم پکې شامل دي، خو د لوګر د واليویاند دیدار لونګ د پېښې په تاییدولو سره ویلي چې هوایي برید پر وسله والو طالبانو شوی دی، خو نوموړي په دې اړه نور جزیات نه دي ورکړي.

بلخوا د بابوس کلي اوسېدونکو ویلي چې په دغه برید کې زیانمن شوي کسان ټول ملکیان او د یوې کورنۍ غړي دي. د زیانمنې شوې کورنۍ یوه خپلوان ویلي، حکومت مجبور دی چې مشکوک کسان ونیسي، نه دا چې له الوتکو د عامو وګړو پر کورونو بریدونه وکړي.

په ورته وخت کې پخواني ولسمشر بیا دغه برید وحشیانه بللی او پر ښکېلو خواوو یې غږ کړی چې نور دې د ملکي وګړو د خوندیتوب په پار عملیات بند کړي.


د نوموړي له دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د ګډو ځواکونو په هوایي بریدونو کې د ملکي وګړو تلفات اوج ته رسېدلي او دې مسئلې د افغانانو حوصله تنګه کړې ده. هغه پر طالبانو، افغان حکومت او بهرنیو ځواکونو غږ کړی چې د سولې د خبرو د چټکتیا په موخه باید په ټول هېواد کې نښتې او نظامي عملیات ودروي.

## په کانونو او پټرولیم وزارت کې لاهم پراخ فساد شته




۵ مخ

## بانک انکشاف اسلامی یک شفاخانهٔ صد بستر و چهار کلینیک در افغانستان می سازد



بانک انکشاف اسلامی یک شفاخانه صد بستر و چهار کلینیک در افغانستان می سازد.

در یک خبرنامه که از ریاست جمهوری منتشر شده، آمده است که رئیس جمهور محمد اشرف غنی در دومین روز سفرش به عربستان سعودی، دیروز با داکتر بندرالحجار رئیس بانک انکشاف اسلامی در شهر جده دیدار کرد. منبع افزوده است که در این دیدار، هردو جانب در رابطه به همکاری‌ها، انکشاف اقتصادی و خودکفایی افغانستان، سرمایه گذاری، زراعت و اعطای قرضه‌های درازمدت به افغانستان، بحث و تبادل نظر کردند.


رئیس جمهور کشور، با اشاره به رشد زراعت در کشور و صادرات محصولات زراعتی و میوه جات افغانستان به بازارهای جهانی، گفت که بانک انکشاف اسلامی بخاطر رشد هرچه بهتر تولیدات زراعتی، بهبود زندگی و عاید دهاقین افغان، همکاری و سرمایه گذاری نماید. موصوف تصریح کرد که صادرات جلغوزه، زعفران، بادام و محصولات دیگر افغانستان به شمول عربستان سعودی به کشورهای منطقه و جهان افزایش یافته است و در نتیجهٔ همکاری و اعطای قرضه‌های درازمدت بانک انکشاف اسلامی در بخش زراعت، در این عرصه بهبود هرچه بیشتر رونما خواهد گردید. رئیس جمهور غنی، ضمن قدردانی از کمک‌های بانک انکشاف اسلامی با افغانستان، از رئیس این بانک بخاطر آمادگی به دوام همکاری‌ها تشکر کرد و کمک‌های این بانک را در عرصه انکشاف اقتصادی، انکشاف و خودکفایی افغانستان، مؤثر خواند.

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## دریــغ

# ټاکنې څېرته کېږي او څوک پکې برخه اخلي؟

د ټاکنو کمېسیون وایي چې امنیتي ادارو ورته ویلي چې د (۴۳۱) نورو مرکزونو امنیت هم نه شي ټینګولی او په دې ډول به د ټاکنو په ورځ یوازې (۴۹۴۲) مرکزونه پرانیستي وي.
د ټاکنو کمېسیون د افغانستان په هغه برخه کې چې ټاکنې پکې د دوی په نظر ممکنې وې، (۷۳۸۵) مرکزونه په پام کې نیولي وو، خو اوس ویل کېږي چې شاوخوا (۲۴۰۰) نور مرکزونه به هم بند وي. وېره ده چې که امنیتي ګواښونه همداسې وي، نو تر ټاکنو پورې ښایي ډېر نور مرکزونه هم بند شي. له بلې اړخه په ډېرو هغو سیمو کې به هم امنیتي ګواښونه وي چې مرکزونه پکې پرانیستي دي.
په دې ډول به میلیونونه افغانان د ناامنۍ له امله په ټاکنو کې برخه وا نه خلي.
اوس پوښتنه دا ده چې ټاکنې به څېرته کېږي او څوک به پکې برخه اخلي؟
یوازې ناامني هم نه ده، ډېر نور لاملونه هم شته چې خلک په ټاکنو کې برخې اخیستو ته زړه نه ښه کوي. خلک له یوه اړخه پر ټاکنو باور نه لري، ځکه هر ځل چې په افغانستان کې ټاکنې شوې، د ستونزو د حل پر ځای یې ستونزې ډېرې کړې دي.
هر ځل ټاکنې له درغلیو، فساد، د بهرنیانو له لاسوهنې او ناقانونۍ ډکې وې. خلکو د ۲۰۱۴ ز کال د ولسمشرۍ او بیا د ۲۰۱۸ ز کال د ولسي جرګې ټاکنې نه دي هېرې کړې. له همدې امله پر ټاکنو باور نه لري او برخه پکې نه اخلي. خلک پر دې هم پوهېږي چې د دوی رایې ته نه پخوا اهمیت ورکړل شوی و او نه به هم اوس ارزښت ورکړل شي. له همدې امله غوره ګڼي چې په ټاکنو کې برخه وانه خلي.
له بلې اړخه خلک سوله تر ټاکنو غوره ګڼي. دوی غواړي سوله وشي. ټاکنو ته د واک د دوام په سترګه کتل کېږي چې د سولې پر وړاندې به خنډ جوړوي. همدغه احساس او درک چې ټاکنې د سولې پر وړاندې خنډ جوړوي، خلکو ته دا فکر ورکړی چې باید پر سوله تمرکز وکړي او د ټاکنو پر خلاف ودرېږي. مونږ د ولایتونو او ناامنو سیمو خبرې نه کوو، په کابل کې هم ډېر خلک په ټاکنو کې برخې اخیستو ته زړه نه ښه کوي. یوازې خلک هم نه دي، بلکې له ولسمشر غني پرته ټول کاندیدان د سولې خبرې کوي. ټول وایي چې که سوله کېږي، دوی له ټاکنو تېر دي او آن ځینې کاندیدان په شدت د سولې پلویان دي او د موقت حکومت د جوړېدو خبرې هم کوي. له همدې امله د ټاکنو خلاف او د سولې د ملاتړ فکر اوس نه یوازې په ولس کې پیاوړی دی، بلکې کاندیدان هم د دې فکر پلویان دي.
را روانې ټاکنې د اساسي قانون او جمهوریت خلاف هم دي، ځکه خورا کم خلک به پکې برخه واخلي. که د سولې بحث هم نه وي، که ټاکنې و هم شي، خو بیا به هم ډېر کم خلک په ټاکنو برخه واخلي چې دا به له ۲۰۰۱ ز کال وروسته په ټاکنو کې د خلکو د کم ګډون له امله بې سارې ټاکنې وي.
په دې ډول به د اساسي قانون هغه احکام نه وي عملي شوي، چې د ټاکنو په اړه یې لري. د کمو خلکو ګډون، پراخ فساد، درغلۍ او ناقانونۍ هغه څه دي چې راتلونکې ټاکنې ګواښي.

# پلان تحرکات غرض اداره جنگ تحریماتی؛ داستان «بوینگ مالیزیایی»

تمایل ایالات متحده امریکا و شرکای آن نسبت به استفاده از تحریمات یک جانبه منحیث ابزار اصلی برای حل مشکلات مختلف بین المللی موجب نگرانی بسیاری از کشورهای جهان گردیده است. در عین زمان، یک تسلسل مشخص اقدامات در غرب غرض متهم دانستن یک دولت و وضع تحریمات در برابر آن چون توطئه، تحریف اطلاعات، تشخیص متهمین و وضع تحریمات شکل گرفته است.
پیشتر از همه لازم است وضعیتی به میان آورده شود که با استفاده از آن دولت نامطلوب را می توان بد جلوه داد. در رسانه‌های جهان که تحت کنترول غرب قرار دارند، همزمان خبری منتشر میشود که دولتی گویا دست به انجام جنایت زده است. در عین زمان، معمولاً هیچ دلیلی مبنی بر حقایق آورده نمیشود، اما طرف متهم مجبور است به آوردن دلایل برای بیگناهی خود بپردازد. همین‌طور اذهان عامه با کمک تحرکات و تحریف اطلاعات بنفع «فرمایش دهنده» ایجاد میشود.
پس از این لازم است اعمال دولت متهم را در مطابقت با تصامیم مراجع بین المللی به بررسی گرفت. بدین منظور، کمیسیون‌های زیر نظر غربی‌ها با دور زدن سازمان ملل متحد تشکیل میشوند که به اصطلاح وظیفه اتریبوتیف (Attributive) یعنی وظیفه تشخیص متهمین را دریافت میکنند. بخصوص، کشورهای غربی اخیراً تصمیم مبنی بر واگذاری چنین وظایف را بر دارالانشای تخنیکی سازمان منع سلاح کیمیاوی تحمیل کرده اند که اکثراً نماینده های کشورهای غربی عضویت این دارالانشاء را دارند. باین ترتیب، تحریمات جدید وضع گردیده و یا تحریمات موجود علیه کشورهای نامطلوب مبتنی بر تصامیم مراجع تحت کنترول غرب به بهانه‌های مطلقاً ساختگی سختر میشوند.
به عنوان نمونه یی از چنین اقدامات، می توان از سقوط «بوینگ» مالیزیایی در سال ۲۰۱۴ میلادی در اوکراین یادآوری کرد که در حال پرواز از امستردام (هالند) به کوالالامپور (مالیزیا) بود. این طیاره در حومه دونباس (اوکراین شرقی) آماج قرار گرفته بود یعنی در ساحه جنگ بین حکومت جدید اوکراین که در نتیجه یک کودتای غیرقانونی در این کشور به قدرت رسیده بود و چریک هایکه از برسمیت شناختن مشروعیت رهبری جدید اوکراین امتناع ورزیده اند. ایجاب می کرد روشن شود که طیاره متذکره توسط کی و در کدام شرایط مورد هدف قرار گرفته بود. بدین منظور، اوکراین و هالند یادداشت تفاهمی را امضاء نمودند که مطابق به آن، نقش رهبری در پروسه تحقیقات به حکومت هالند داده شده بود.
تحقیقات در مورد دلایل تخنیکی این سانحه هوایی از طرف شورای امور امنیتی انجام میشد که رسماً در تشکیل وزارت امور داخله هالند فعالیت می نماید. تشخیص متهمین از وظایف این شورا نمی باشد. اما با وجود این، پس از انتشار آخرین گزارش در سال ۲۰۱۵ میلادی راجع به عوامل فاجعه، رئیس شورا چریک‌های دونباس در شرق اوکراین را در حادثه سقوط مستقیماً متهم کرد که این امر بر پیشداوری مغرضانه موصوف به صورت آشکار مهر تائید میگذارد. تحقیقات جنایی از طرف تیم مشترک تحقیقاتی متشکل از نماینده‌های هالند، آسترالیا، بلژیک، اوکراین و مالیزیا جریان دارد.
حتی الی آغاز کار برای روشن ساختن عوامل این تراژیدی، در رسانه‌های غربی فوراً اعلام نمودند که روسیه مقصر این حادثه است. بعداً واضح گردید که نتایج تحقیقات فقط به تعبیر موجود دست بدست میشوند. همین‌طور تمام موادیکه از طرف روسیه در اختیار تیم مشترک تحقیقاتی گذاشته شده بود، از جمله مشخصات بدست آمده از سیستم رادار در پروسه تحقیقات مد نظرگرفته نشده بودند. دلیل چشم پوشی از مواد و مدارک روسیه اعلام گردیده بود که این مدارک «تصویر لازم را ارائه نکرده اند» یعنی اینکه با آن اتهاماتی مطابقت نداشته اند که از همان آغاز از سوی غربی‌ها جعل گردیده بود. با وجود عدم موجودیت شواهد، فکر (نظر) در مورد گویا «حقیقت ثابت شده» تقصیر روسیه بر جامعه جهانی تحمیل میگردد. خصوصاً در اعلامیه رئیس تیم مشترک تحقیقاتی بی شرمانه طنین انداز گردیده بود که «عدم موجودیت دلایل عدم اثبات اتهام جرم نمیباشد».
چنین اتهامات خیالی به آدرس بسیاری از کشورهای جهان در زمان ما کم سابقه نبوده است. بی شرمانه و بدون ارائه دلایل در جستجوی بهانه برای وضع تحریمات جدید بر کشورهای رقیب از لحاظ سیاسی و اقتصادی و همچنان اعمال فشار و سرنگونی رژیم های نامطلوب و غیره. ما شاهد چنین وضعیت در یوگوسلاویا، عراق، لیبیا و سوریه بودیم و امروز در قبال ایران، روسیه، چین و وینزویلا جریان دارد. اینکه کشور بعدی کدام کشور خواهد بود، هیچکس نمیداند.

# ټاکنو کمېسیون: تر دې مهاله یوازې دوو نوماندانو خپل څارونکي کمېسیون ته ورپېژندلي دي

له ټاکنیزو کمپاینونو د یوې میاشتې په تېرېدو او د ولسمشریزو ټاکنو په رانږدې کېدو سره، تر اوسه یوازې دوو نوماندانو د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته خپل څارونکي ور پېژندلي دي.
دا په داسې حال کې ده چې نوماندان کولی شي په ټول هېواد کې د ټاکنو د شفافیت په خاطر د ټاکنو او د رای شمېرنې د بهیر لپاره خپل څارونکي معرفي کړي او کمېسیون هم مکلف دی چې د دوی د روزنې، ثبت او د اعتبارپاڼې لپاره کار وکړي، خو تر اوسه له ۱۷ کاندیدانو یوازې دوو کاندیدانو محمد اشرف غني او ګلبدین حکمتیار خپل څارونکي د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته ورپېژندلي دي.
د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ویاند مرستیال مرزا محمد حقپرست ویلي: «یوازې محمد اشرف غني او ګلبدین حکمتیار خپل څارونکي معرفي کړي دي، دوی (نور نوماندان) قانع کوونکي دلایل نه لري، که د سنبلې تر ۳۰مې یې فارمټونه ډک نه کړل او څارونکي یې رامعرفي نه کړل، نور وخت نه ورکول کېږي او کمېسیون به نور عملیاتي پروګرامونه پرمخ بوځي».
سره له دې چې پر ټاکنیزو کمپاینونو یوه میاشت اوړي، ډېری کاندیدانو تر اوسه په جدي توګه ټاکنیزې مبارزې نه دي پیل کړې، ولایتونو ته هم نه دي تللي او خپل



پروګرامونه یې هم نه دي بیان کړي.
بلخوا یو کار چې کاندیدانو په دې موده کې باید کړی وای، په محلونو کې د رایې ورکوونکو د بهیر د څار لپاره د زرګونو څارونکو ورپېژندل وو، خو کاندیدانو ورته ډېر پام نه دی کړی.
کمېسیون ویلي، د څارونکو د پېژندلو، ثبت، روزنې او دوی ته د اعتبارپاڼو ورکړه یوه پېچلې لړۍ ده او وخت غواړي.
د دغه کمېسیون ویاند ویلي چې دغه کار ته یوازې ۲۷ ورځې پاتې دي.
په ورته وخت کې ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند فرامرز تمنا ویلي، کمېسیون ته د څارونکو د ورپېژندلو لپاره هېڅ اړتیا نشته.
هغه دغه راز زیاته کړې: «د درغلیو او تقلب لپاره د څارونکو استخدام سمه کړنلاره نه ده، بلکې پراخې درغلۍ د انتخاباتو په ورځ د رایو ورکولو وروسته د شپې لخوا کېږي، له همدې امله د تدبیر او توسعې انتخاباتي ټیم تر اوسه خپل څارونکي نه دي ورپېژندلي».
بل لور ته پر ټاکنو څارونکي بنسټونه بیا پر دې باور دي، چې نړیواله ټولنه او ان پخپله کاندیدان د ټاکنو کېدو ته کلکه اراده نه لري.
دغه بنسټونه وایي، که ټاکنې وشي او نوماندان خپل څارونکي ور ونه پېژني، په ټاکنو کې به د درغلیو احتمال ډېر شي.

# ارګ: د اسلامي همکاریو سازمان له افغان سولې پروسې او ولسمشریزو ټاکنو ملاتړ کړی دی

د اسلامي همکاریو سازمان سکرتر جنرال په سعودي عربستان کې له ولسمشر غني سره په کتنه کې په افغانستان کې د سولې له پروسې او ولسمشرۍ ټاکنو ملاتړ کړی دی.
د ولسمشرۍ ماڼۍ د خبرپاڼې له مخې، ولسمشر محمد اشرف غني پرون له غرمې مخکې په جدې ښار کې د اسلامي همکاریو سازمان له سکرتر جنرال ډاکټر یوسف بن احمدالعثیمین سره کتلي دي.
په دې کتنه کې دواړو لورو له تروریزم او افراطیت سره د ګډې مبارزې، له حکومت سره د سولې د مخامخ مذاکراتو، د شفافو ولسمشریزو ټاکنو د تر سره کېدو او په افغانستان کې د اسلامي پوهنتون جوړولو په اړه بحث او خبرې کړې دي.
په خبرپاڼه کې وړاندې راغلي چې د اسلامي همکاریو سازمان سکرتر جنرال



ډاکټر یوسف بن احمدالعثیمین جمهور رییس غني، د افغانستان خلکو او د قربانیانو کورنیو ته د واده پر مراسمو د برید له امله تسلیت ویلی او له طالبانو یې غوښتي چې له افغان حکومت سره د سولې بین الافغاني مذاکراتو ته حاضر شي.
په خبرپاڼه کې راغلي: «د اسلامي همکاریو سازمان سکرتر جنرال افغانستان د نړۍ مهم شریک وباله چې نړیوال مشروعیت لري او په همدې خاطر ټوله نړۍ باید د ترهګرۍ ضد مبارزې او په افغانستان کې د روان جنګ د پای ته رسېدو لپاره له افغانستان سره همکاره و اوسي».
سرچینه کاږي چې یوسف بن احمدالعثیمین د سولې له بین الافغاني مذاکراتو او ولسمشریزو ټاکنو څخه خپل ملاتړ اعلان کړی او ویلي یې دي چې دوی د سولې په برخه کې هر ډول همکارۍ ته چمتو دي.
دا په داسې حال کې ده چې دا مهال په قطر کې د طالبانو او امریکایي استازو ترمنځ د سولې د خبرو نهم پړاو روان دی او ویل کېږي چې په دغو خبرو کې ډېر پرمختګ شوی دی.
په پام کې ده چې له دې خبرو وروسته د سولې بین الافغاني خبرې هم پیل شي.
که څه هم طالبان وایي چې له افغان حکومت سره خبرې نه کوي، خو افغان حکومت وایي چې د سولې د خبرو لپاره یې ۱۵ کسیز پلاوی ټاکلی دی.
په خبرپاڼه کې راغلي چې د اسلامي همکاریو سازمان سکرتر جنرال له ولسمشر غني سره په لیدنه کې ژمنه کړې، چې د ولسمشریزو ټاکنو د بهیر د څارنې لپاره به افغانستان ته څارونکي واستوي. ټاکل شوې چې د افغانستان د ولسمشرۍ ټاکنې د تلې په شپږمه وشي.

# هانکانگ له زورزیاتي څخه په ډک ښار نه شي بدلېدای

پر افغانستان کې د چین سفارت شارژدافیر، وانگ دا شوی

له څه مودې راهیسې د ځینو بدنیتو بهرنیو ځواکونو په پارونې سره په هانکانگ کې د زورزیاتي او تاوتریخوالي ځینې سختې پېښې رامنځته شوې، هغه چې د مدني ټولنې له بنسټیزې کرښې څخه وتلې او د چین ملي حاکمیت ته یې زیان رسولی دی. دغه راز هانکانگ چې د ازادۍ، ورخلاصون او قانوني اداري له امله د ختیځې نړۍ د مرغلرې نوم لري، د زورزیاتي له امله په رکود کې لوېدلی دی. د زورزیاتي بندول او ټولنیزې گډوډۍ پای ته رسول، د هانکانگیانو یوه سخته او عمده غوښتنه گرځېدلې ده. خو ځینې بهرني ځواکونه پر واقعیتونو خپلې سترگې پټوي، د هانکانگ او د چین په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي او د هانکانگ حالاتو د ترینگلتیا په هڅه کې دي. د دوی دغه توطیه به حتماً ژر ناکامه شي.

د وروستیو ناورو پېښو مستقیم لاملونه د هانکانگ د خاصې اداري سیمې حکومت لخوا د هغو تښتېدلو مجرمینو او د جنایي چارو په اړه د متقابلې مرستې قواعدو تعدیلول دي. د ۲۰۱۸ ز کال په فبرورۍ کې یو هانکانگی چې کورنی نوم یې چن دی، په تایوان سیمه کې جرم وکړ او خپله معشوقه یې ووژله او له جرم وروسته بېرته هانکانگ ته وتښتېدلو. تایوان ته د دغه مجرم د بېرته سپارلو او هلته ور باندې د محاکمې لپاره د هانکانگ د خاصې اداري سیمې حکومت د یادو دوو قاعدو تعدیل وړاندې کړ. موخه یې دا ده چې د هانکانگ او د چین د نورو سیمو ترمنځ دېته ورته د نورو تښتېدلو مجرمینو د تسلیمولو په اړه همکارۍ او په جنایي چارو کې متقابلې مرستې په یادو دوو قواعدو کې شاملې شي. دغه ډول ترتیبات کټ مټ د یو هېواد او دوو سیاسي نظامونو تر چوکاټ لاندې عادي قانوني عملونه دي چې د هانکانگ پر عدلي خپلواکۍ باندې هېڅ اغېزه نه کوي. خو د ځینو بد نیتو کسانو او خبري رسنیو زیاتې خطرناکې خبرې جوړې او خپرې کړلې چې د سختې ټولنیزې وېرې سبب شوې دي. د ټولنیزې ارامۍ د ژر اعاده کولو په پاره د هانکانگ د خاصې اداري سیمې حکومت د جون په ۱۵مه د یادو دوو قانوني سندونو د تعدیل د ځنډولو اعلان وکړ او اړوندې قانوني چارې هم له هغه وخته بندې شوې دي. د چین مرکزي حکومت له دې څخه ملاتړ، تفاهم او درناوی څرگند کړی دی.

له تېر جون راهیسې په هانکانگ کې ځینو مخالفینو او افراطگرو د سوله ییزې مظاهرې په نوم، ډول ډول تندلارو فعالیتونو ته لاسونه واچول او د دوو قانوني سندونو له تعدیل سره د مخالفت په پلمه یې رنگارنگ ویجاړوونکې کړنې تر سره کړې. دوی له یوې خوا د ازادۍ، ډیموکراسۍ او قانوني اداري نارې وهلې؛ خو متأسفانه له بلې خوا یې خبریالان ووهل، سیلانیان یې یرغمل کړل، پر پولیسو یې بریدونه وکړل او د خپلو خولو ټول ارزښتناک شعارونه یې تر پښو لاندې کړي دي. ځینو کسانو په څرگند ډول چې د هانکانگ د خپلواکۍ نارې یې وهلې، په هانکانگ کې د مرکزي حکومت پر مېشتو ارگانونو راچاپېره شول، د ملي بیرغونو، نښو او د هانکانگ د ځانگړې اداري سیمې د نښو سپکاوی یې وکړ. هېڅ یو هېواد دې دغه ډول زورگرو پروړاندې صبر نه شي کولای. د هانکانگ پولیسو د ټولنیز امنیت د ساتلو په موخه، تل تر ستر فشار لاندې پر خپلو دندو ټینگار کړی او کوي یې. تر اوسه پورې کابو ۲۰۰ پولیس د زورگرو د مظاهرو په ترځ کې ټپیان شوي چې حتی د یو پولیس یو گوته د یو زورچلوونکي لخوا پرې شوې ده. ځینې یې د سختو ټپونو له امله تر څه باندې ۵۰ ورځو وروسته لاهم روغ شوي نه دي. خو د لوېدیځو هېوادونو خبري رسنیو په رپوټونو کې داسې پولیس په منفي ځواکونو، خو زورچلوونکي چې له ترهگرو سره یې دومره توپیر نشته، ډیموکراټیک سرتېري وبلل.

هانکانگ د چین د ځمکې برخه ده. هېڅ یو بهرنی ځواک د هانکانگ پر چارو غیر مسوولانه تبصره یا خبره نه شي کولای. د چین حکومت هېڅکله پر امریکایي حکومت نیوکه نه ده کړې چې د واټر سټریټ د اشغال غورځنگ یې وځاپه او د برېټانوي حکومت غندنه یې هم نه ده کړې، چې په زور سره په لندن کې له پېښې شوې گډوډۍ سره یې مقابله کړې وه. خو ځینو هېوادونو د دوه گونو معیارونو په چلولو سره د هانکانگ په چارو کې څرگنده او ژوره مداخله وکړه. د هانکانگ د غیر قانوني مظاهره کوونکو په ډله کې دا هم کله کله لیدل شوي، چې ځینې بهرني عناصر د تندلارو مظاهرچیانو په څنگ کې دي او سره خبرې کوي او د دوی لارښوونې یې کړې دي. په هانکانگ کې د مخالفینو مشرانو او د هانکانگ د خپلواکۍ غوښتونکي سازمان مشر په پټه له امریکایي ډیپلوماټانو سره کتلي او نږدې تماسونه یې ورسره ساتلي دي. د امریکا او برېټانیا حکومتونو په هانکانگ کې پر وروستي سخت زورزیاتي خپلې سترگې پټې کړې او زورگرو ته یې د ازادۍ، ډیموکراسۍ او بشري حقونو په گډون، ښه نومونه ورکړي. ځینو نړیوالو خبري رسنیو ویلي چې په هانکانگ کې ټولنیزه گډوډۍ د زرغون انقلاب (Color Revolution) پر بدلېدو باور پیدا کړی دی. له دې څخه څرگندېږي چې امریکایي حکومت په سوداگریزه جگړه کې د بریالیتوب د نه موندلو په حال کې د چین تجزیه غوښتونکو ته لاس ورکړی او ورڅخه ملاتړ کوي. ځینو برېټانویانو ویلي چې هانکانگ ډیموکراسۍ ته اړتیا لري، خو د برېټانیا تر تسلط لاندې د هغه وخت هانکانگیانو هېڅ ډول ډیموکراټیک حقونه نه درلودل. په هانکانگ مسئله کې د امریکا او لوېدیځو هېوادونو دریځونه د چیني پرمختگ د مخنیوي موخه لري.

د چین حکومت به هېچا ته د هانکانگ د گډوډۍ اجازه ور نه کړي. په هانکانگ کې هېڅ ځمکه په نورو هېوادونو پورې اړه لري. د هانکانگ په چارو کې د بهرنیو ځواکونو په سختې مداخلې سره هېڅ یو هېواد به د چین په شان دومره صبر او زغم ونه کړي؛ خو دغه ډول صبر هم بنسټیزه کرښه او اندازه لري. په هانکانگ کې د زورزیاتي سختې پېښې اصلي بڼه بدله شوې او اوس د زرغون انقلاب نوم ورکول کېږي. که داسې حالت دوام وکړي، نو د هانکانگ پر عمومي نظم به منفي اغېزه وکړي، د هانکانگیانو د سر او مال امنیت به له زیانونو سره مخ شي او د هانکانگ سمسورتیا او ثبات به خراب کړي، ان د یو هېواد او دوو سیاسي نظامونو چوکاټ به هم ناکام شي. زیاتره هانکانگیان، د چین حکومت او چینایان به له دې سره موافقه و نه کړي، چې هانکانگ له زورزیاتي څخه په یو ډک ښار بدل شي. د زورزیاتي بندول، د گډوډۍ پای ته رسول او د ټولنیز نظم اعاده کول د نننۍ هانکانگ لپاره تر ټولو بیړنۍ دنده ده. هر ډول غیر قانوني کړنو ته به قانوني او تاریخي سزا ورکول کېږي، هر هغه څه چې د یو هېواد او دوو سیاسي نظامونو د اصولو او بنسټیزې کرښې پر ضد وي، قانوني صلاحیت تر پښو لاندې کوي، ټولنیز ثبات ویجاړوي او یا د ولسي وگړو گټو ته زیانونه رسوي؛ د چین حکومت به پر وخت د کافي برخورد لپاره قوي ځواکونه چمتو ولري او ژر به په هانکانگ کې هر ډول زورزیاتي پای ته ورسوي. خو موږ باید ځینو هېوادونو ته ووایو چې د هانکانگ په چارو کې خپل تور لاسونه دې ژر ورټول کړي، ځکه چې د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې لاسوهنې هېڅکله ښه پایله نه ده ورکړې او دا په تاریخي واقعیتونو کې په اثبات رسېدلې ده او ډېر ژر به یو ځل بیا په اثبات ورسیږي.

# راتلونکې ولسمشریزې ټاکنې؛

## د امنیتي ستونزو له امله به د ټاکنو په ورځ سلگونه مرکزونه تړلي پاتې وي



سره له دې چې حکومت او د ټاکنو خپلواک کمېسیون د شفافو او عادلانه ټاکنو د تر سره کېدو ژمنه کوي، خو راپورونه ښیي چې په هېواد کې به تر دوه زره ډېر د رایې اچونې مرکزونه د ټاکنو په ورځ تړلي وي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي چې د اوو زرو مرکزونو له ډلې به یې یوازې ۴۹۴۲ مرکزونه پرانیستي وي.

د راتلونکې میاشتې په شپږمه ولسمشریزې ټاکنې تر سره کېږي، خو لا هم امنیت او ځینې نورې ستونزې د عادلانه ټاکنو د تر سره کولو په لار کې تر ټولو ستر خنډ دی.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون تازه ویلي چې دوی په ټول هېواد کې د ۷۳۸۵ مرکزونو د پرانیستلو پلان درلود، خو د امنیتي ستونزو له امله به له دې ډلې یوازې ۴۹۴۲ مرکزونه پرانیستي وي.

یاد کمېسیون وایي چې تر دې وړاندې د تړل کېدونکو مرکزونو شمېر کم و، خو تازه امنیتي ادارو ورته ویلي چې په ځینو برخو کې به ۴۳۱ نور مرکزونه هم تړلي پاتې وي او د پرانیستل کېدو امکان یې نشته.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون د معلوماتو له مخې، دغه کمېسیون پلان درلود چې ۷۳۸۵ مرکزونه پرانیزي، خو تر څېړنو او پلټنو وروسته روښانه شوه چې یوازې ۵۳۷۳ مرکزونه به پرانیستي وي. په دې توگه نو نږدې دوه زره مرکزونه د امنیتي او نورو ستونزو له امله تړلي پاتې کېږي.

د معلوماتو له مخې، د ټاکنو په ورځ به په فراه کې ۱۷۴ مرکزونه، په هرات کې ۱۶۲ مرکزونه، په غزني کې ۱۵۹ مرکزونه، په هلمند کې ۱۵۰ مرکزونه او په بادغیس کې ۱۳٦ مرکزونه تړلي وي، چې په دې توگه یاد ولایتونه تر ټولو ډېر تړلي مرکزونه لري. تر څنگ یې بامیان، پنجشیر او کابل هغه ولایتونه دي چې تر ټولو لږ تړلي مرکزونه به ولري.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویاند عبدالعزیز ابراهیمي بیا وایي، تازه امنیتي ادارو ورته ویلي چې د ستونزو له امله به ۴۳۱ نور مرکزونه هم تړلي پاتې وي چې په دې توگه نو د پرانیستو مرکزونو شمېر یوازې ۴۹۴۲ مرکزه کېږي. نوموړی وایي: ((امنیتي ادارو راته وویل چې په ځینو نورو مرکزونو کې هم ټاکنې نه شي کېدلی، نو ځکه به تړلي پاتې وي چې په دې سره د تړل شوو مرکزونو شمېر ډېر شوی دی)).

بل پلو امنیتي اداري بیا د ټاکنو د امنیت د تامین خبره کوي. د ملي دفاع وزارت ویاند روح الله احمدزی وایي، ټاکنې به پر خپل وخت تر سره کېږي او دوی یې د امنیت تامین ته تیار دي. احمدزی وایي: ((ټولو مرکزونو ته لاسرسی ممکن دی. خلک کولی شي په پوره ډاډ خپله رایه وکاروي. امنیتي اداري په بشپړه توگه د دوی د امنیت تامین ته تیار دي)).

د ولسي جرگې ځینې غړي هم د ټاکنو پر کمېسیون او همدا راز امنیتي ادارو نیوکه کوي، چې د ټاکنو د امنیت په تامین کې ناغېرې کوي. د دوی په خبره، د ټاکنو خپلواک کمېسیون به په داسې یوه وضعیت کې شفافې ټاکنې تر سره نه شي کړی. د ولسي جرگې غړی سید حسن پکتیاوال وایي، د امنیتي ارگانونو او ټاکنو کمېسیون ترمنځ نه همغږي د دې سبب شوه، چې په تېرو پارلماني ټاکنو کې ډېرې ستونزې رامنځ ته شي. هغه زیاته کړې، که وضعیت د تېر په شان ادامه پیدا کړي، نو د شفافو ټاکنو تر سره کول ستونزمن کار دی.

یوازې امنیتي ستونزې د تلې د شپږمې د ټاکنو په لار کې خنډ نه دي، بلکې تر څنگ یې سیاسي کشمکشونه او د سولې مسئله هم هغه څه دي چې د ټاکنو د تر سره کېدو په اړه یې شکونه پیدا کړي دي. تېره ورځ هم په کابل کې د امریکا سفیر وویل چې ټاکنې نه، بلکې سوله ورته لومړیتوب ده او دا هغه څه دي چې ډېری افغانان یې هم غواړي.

# اسراییل: په سوریه کې پر ایراني هدفونو په بمبارۍ کې لسگونو کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده

د اسراییلو پوځ ویلي، د دغه هېواد بې پیلوټه الوتکو د وژونکو بریدونو د مخنیوي په پار، د سوریې پلازمېنې دمشق ته څېرمه د ایراني ځواکونو پر هدفونو بمباري کړې ده چې ډېرو کسانو ته پکې مرگ ژوبله اوښتې ده.

د دغه هېواد پوځ ویلي چې په دغو بریدونو کې په سوریه کې د ایران د قدس اړوند جنگیالي او شیعه ملېشې په نښه شوې دي، چې درنه مرگ ژوبله ورته اوښتې ده.

په ورته وخت کې د اسراییلو لومړي وزیر بنیامین نتنیاهو د دغه هېواد له رسنیو سره په خبرو کې ویلي: «ایران هېڅ ځای خوندیتوب نه لري او اسراییل به د خپل امنیت او د خپلې خاورې د خوندیتوب لپاره هر لازم گام واخلي».

په ورته وخت کې د سوریې خبري اژانس سانا ویلي، دفاعي هوا د شنبې په شپه د اسراییلو توغندیز برید کشف کړ، چې هدف ته تر رسېدو مخکې یې ډېری توغندي راوغورځول. دغه اژانس د سوریې د یوې پوځي سرچینې له خولې ویلي، هوایي دفاعي سیسټم کشف کړه چې توغندي له جولان سیمې راغلي وو. رپوټونه وایي، د اسراییلو له برید مخکې د دمشق په سمندر کې هم د ډېرو چاودنو غږونه اورېدل شوي دي.

د اسراییلي پوځ په خبره، جنگي الوتکو یې د دمشق سوېل ختیځه عقربه سیمه کې ډېر اهداف په نښه کړي، چې ایراني پلوه جنگیالي پکې مېشت وو.

دا په داسې حال کې ده چې اسراییلو تر دې وړاندې ویلي وو، چې په سوریه کې یې د ایران د ځینو هدفونو ترڅنگ، د لبنان حزب الله اړوند د وسلو زېرمتونونه هم په نښه کړي دي.

دغه هېواد ټینگار کړی چې د سورېې په خاوره کې د ایراني نفوذ د مخنیوي لپاره دوی په ټینگه مبارزه کوي.

په سوریه کې پر ایراني هدفونو د اسراییلو دغه بریدونه داسې مهال شوي، چې پر ایران تور دی چې په سوریه کې د بشارالاسد د نظام په گټه جنگېږي او هلته نیابتي جگړه کوي.

## د کتاب خبرې


# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

- لیکوال: ابوبکر صدیق
- ژباړن: اقامحمد قریشي

### دوهم څپرکی

### له سوله ییزو سرحدي سیمو د افراطیت تر بستره




کله چې د ۱۹۹۷ز کال په اکتوبر کې جنرال دوستم مزار ته راغی، ازبکان یې پر دوو، د دوستم او پهلوان پر ډلو وویشل چې په پایله کې پهلوان له ایران سره په جګړه کې ولوېد. دوستم له هزاره وو سره هم په جګړه کې ولوېد خو کومې پایلې ته ونه رسېد. دې جګړو هزاره ګان کمزوري کړل چې په پایله کې طالبان پرې لاس بري شول.

د ۱۹۹۸ز کال په دوبي کې طالبانو له هراته پر شمالي ولایتونو بادغېس، فاریاب او جوزجان بریدونه وکړل، غوښتل یې له کندوز سره تړاو ولري. طالبانو د جولای په میاشت کې له دوستم څخه شبرغان ونیو او د هزاره وو له حزب وحدت سره یې تر یوې اونۍ جګړې وروسته د ۱۹۹۸ز کال د اګسټ پر ۸مه مزارشریف ښار ونیوه. طالبان داسې ښکارېدل چې غچ اخلي. ملګرو ملتونو او د سره صلیب اداري پر تحریک تور ولګاوه چې بې ګناه او عام خلک یې وژلي وو. د مزار شریف په جګړه کې طالبانو نهه تنه ایراني ډیپلوماټان هم ووژل چې له مخې یې د طالبانو او تهران اړیکې نورې هم خرابې شوې.

د ایراني ډیپلوماټانو د وژل کېدو په غبرګون کې ایران په زرګونو سرتېري له افغانستان سره پر پوله ودرول. د راپورونو له مخې طالبانو د ایران د ګواښ پر وړاندې (۲۰۰۰۰۰) دوه سوه زره جنګیالي تیار کړي وو، خو د دې جنګیالیو کره شمېر به ښایي (۲۰۰۰۰) شل زره تنه و. د کال پر پای کې دواړو لوریو د یو بل پر وړاندې د ټوپکو له ماشو ګوتې لیرې کړې. دا حل لاره د ملګرو ملتونو او لوېدیځو هېوادونو ډیپلوماټانو په اسلام‌اباد کې د خبرو له لارې پیداکړه. په اګسټ میاشت کې طالبانو دوه درجنه هغه بار وړونکو موټرونو ایراني چلوونکي خوشي کړل چې د مزار شریف ښار د نیولو پر مهال یې نیولي وو.

د مزار شریف او په سپټمبر میاشت کې د بامیان ولایت له نیولو سره طالبانو د افغانستان په اکثریت سیمو کنټرول لاره. احمد شاه مسعود او پلویان یې دا مهال په شمال ختیځ یوه تنګه دره کې پاتې وو. د ۱۹۹۹ز کال په پیل کې طالبانو نظامي مسائلو ته پاملرنه کمه کړه. مشـرانو یې غوښتل د سیاسي سېستم پر رغولو کار وکړي. هغوی دا مهال د خبرو اترو هغه بحثونه هم په وار وار رد کړل چې قدرت به د مشارکت له مخې شریکوي. د وژل شوو افغان سیاسي مشـرانو خپلوانو او خواخوږو پر طالبانو او پاکستاني استخباراتو تورونه لګول. د طالبانو مشـران د خپل «قدرت» یوه لاسته راوړنه دا بولي چې ګواکي «افغانستان» یې له تجزیې «ژغورلی» و.

#### پر فرمان ولاړ حکومت

د طالباتو تحریک له پیله ۱۹۹۴ز بیا تر پای ۲۰۰۱ز کال پورې له یو شمېر بدلونونو سره مخ شو. د ځایي علماوو ټینګار دا و چې پرېکړې باید د مشـرانو د شورا له لوري وشي او ملا محمدعمر دې د یوه روحاني او د تحریک د اجرایوي مشـر په توګه دنده ترسره کړي.

وروسته له هغې چې طالبانو په ۱۹۹۶ز کال کابل ونیو، یو بشپړ سني مذهبه رژیم یې جوړ کړ. دا رژیم د کلونو په تېرېدو سره ورځ په ورځ سخت دریځه کېده. په سېستماتیکه توګه ملت پال پښتانه، شاهي پلوه او کمونېستي بیروکراټان څنګ ته شول. تحریک به له نظامي پلوه مجاهدین هم ځپل، ځکه نو قدرت په ټولیزه توګه طالبانو ته ورپاتې و. له اسلام مبارک دین سره د طالبانو اړیکه، ولسي ریښې، د ژوند ساده طرز او قاطع او جدي امرونو په لومړیو کې هغوی د عامو خلکو په زړونو کې ګران کړل او د خلکو په سترګو کې مشـروع څرګند شول. له ځایي علماوو سره د هغوی اړیکو، هغوی کلیو او بانډو کې با نفوذه کړي وو.

که څه هم د کندهار د شورا داخلي کړنلاره تر پایه څرګنده نشوه، خو ډېری غړي یې د ملا محمدعمر نږدې کسان وو. طالبانو د کابل شورا هم جوړه کړه چې ډېری غړي یې د کابینې غړي هم وو، خو هغوی دومره واک نه لاره لکه د کندهار له شورا سره چې و. دې ته ورته نظامي شورا هم چندان واکونه نه لرل.

ډېری طالب مشـرانو اوږده جګړه‌ییزه مخینه درلوده، له همدې کبله له حکومتولۍ سره چندان بلد نه وو. د دې رژیم جوړښت داسې و چې د حکومت کارکوونکي په ډېرې اسانۍ سره له دندې ګوښه کېدی شوای. که څه هم د ګوتو په شمار د پخوانیو حکومتونو کار کوونکي پر دندو ګمارل شوي وو، خو په حکومت کې د طالبانو پراخ ګډون په اساسي توګه د بنسټونو د جوړولو مخه ډب کړې وه. وحید مژده وایي، طالبانو ته به د نورو مامورینو په پرتله ځانګړي روغتیایي خدمتونو ورکول کېدل. له مسلکي کسانو سره د واک او تنخواګانو پر کچه هم تبعیض کېده. د طالبانو په نظام کې انډیوالي حاکمه وه.

کله چې به کوم وزیر او یا هم والي له دندې ګوښه شو، نوي ځای ناستي به یې خپل ټول انډیوالان په یاده اداره کې ځای پر ځای کول. د دې ډول سیستم منفي ټکی دا و، کله چې به کومو کسانو په یوه اداره کې ښه تجربه پیداکړې وه. هغوی به د نوي مشـر له راتلو سره سم له دندو لیرې کېدل، بیا به په نوو ځایونو کې پر داسې دندو ګمارل کېدل چې هلته به یې کافي تجربه نه لرله. د مشـرانو له ځای غونډېدو سره هم ورته چلند کېده، هغوی به هرڅه له صفر پیلول. له دې ښکاري چې هغوی د یوه روڼ او اساسي حکومت د سېستم په اړه لرلید نه لاره. د طالبانو په پنځه کلن قدرت کې هغوی هېڅ ډول مثبت بدلون رانه ووست.

دوام لري...

# افغانستان

حشمت الله نوري



افغانستان د آسیا په زړه کې په وچه پورې تړلی غرنی، د منځنۍ آسیا له هېوادونو څخه شمېرل کیږي. افغانستان په شمالي نیمه کره کې د شمالي عرض البلدونو د ۲۹ او ۳۸ درجو په مینځ کې پروت دی، چې ټولټال یې پراخوالی ٦۴۷۵۰۰ کیلومترو مربع ته رسېږي.

د دغه هېواد شمال ته تاجکستان، شمال ختیځ ته د چین ولسي جمهوریت، جنوب ته پاکستان او لوېدیځ ته یې ایران موقعیت لري.

افغانستان یو غرنی هېواد دی چې دریېمه برخه خاوره یې غرونو نیولې ده. دا غرونه ډېر په ختیځ، مرکزي او شمال لوېدیځو برخو کې پراته دي. دغو غرونو د افغانستان پر اقلیم ډېره اغېزه کړې او هغه یې له دښتیتوب څخه ایستلی او غرني اورښت ته یې لاره هواره کړې ده. د دغه هېواد غرونه د واورې او کنګلونو یوه پراخه ساحه جوړوي، چې دا بیا د ډېرو غټو او کمکیو سیندونو او سیندکیو د اوبو سرچینه بلل کیږي.

پوهان وایي، افغانستان د جغرافیایي موقعیت له مخې د نړۍ په دښتې کمربند کې چې له سعودي عربستان څخه تر منځنۍ آسیا پورې غځېدلی دی، پروت دی او که چیرې په افغانستان کې غرونه نه وای، ټول افغانستان به یوې پراخه دښتې نیولی وای او د انساني فعالیت لپاره به محدود شرایط برابر وای.

د دغه هېواد پلازمېنه کابل ښار دی او ټولټال یې نفوس څه باندې ۳۲ میلیونو کسانو ته رسېږي، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۴۷ کسان ژوند کوي. د دغه هېواد ۴۵ سلنه وګړي په ښارونو او پاتې ۵۵ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي.

افغانستان د اداري وېش له کبله پر ۳۴ ولایتونو وېشل شوی دی. د دغه هېواد د وګړو رسمي دین اسلام او ۹۹،۹ سلنه وګړي یې مسلمانان دي.

په افغانستان کې لومړنی کمکی حکومت یا کابینه د سیدجمالدین افغان په سپارښتنه د امیر شیرعلي خان په وخت کې جوړ شو. لومړنی اساسي قانون یې دنظامنامې په نامه د امان الله خان پاچا په همت، د ۱۳۰۳ لمریز کال په لویه جرګه کې چې په پغمان کې دایره او ۱۵۰۴ استازو ګډون پکې کړی و، تدوین او تصویب شو. د دې نظامنامې ځینې حقوق او آزادۍ د ټولو هیوادوالو لپاره د تابعیت د مساوي حق، د شخصي حقوقو آزادي، شخصي خوندیتوب، د مرییتوب او د مریي او یرغمل په توګه د افرادو ګومارلو لغوه کول، د ښوونې او روزنې حق، د ښوونځیو، خصوصي مدرسو آزادي او د لومړنیو زده کړو اجباري کول، د شتمنۍ خوندیتوب او د ځورونې له منعه کولو څخه عبارت دي.

د افغانستان اوسنۍ ولسمشر محمد اشرف غني او اجراییه رییس یې ډاکټر عبدالله عبدالله دی. د دغه هېواد اوسنۍ ملي شورا دوې خونې لري، لومړۍ ولسي جرګه چې ۲۴۹ غړي لري او د ولایتونو د سهمیې پر بنسټ د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره ټاکل کیږي. دویمه د مشرانو جرګه ده چې ۱۰۲ غړي لري. د دې جرګې ۳۴ غړي د ولسمشر لخوا، ۳۴ د ولایتي شورا ګانو او ۳۴ د ولسوالیو شورا ګانو لخوا ټاکل کیږي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.

قضاییه قوه د افغانستان د قضاییه قوې د محکمو د تشکیلاتو او واک د قانون د دویمې مادې پر بنسټ، د دولت خپلواک رکن دی، چې له سترې محکمې، استناف او ابتدایه محکمو څخه جوړه ده. د قضاییه قوې په واک کې د هغه ټولو دعواوو څېړنه شامله ده، چې د دولت په شمول د حقیقي یا حکمي اشخاصو لخوا د مدعي یا مدعی علیه په توګه د قانون د حکمونو مطابق، د محکمې په وړاندې اقامه کیږي.

ستره محکمه د هېواد د ډېر عالي قضایي ارګان په توګه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د قضاییه قوې په سر کې ځای لري. ستره محکمه له نهو غړو څخه جوړه ده چې د ولسمشر لخوا د ولسي جرګې په تایید ټاکل کیږي. ولسمشر له دې کسانو څخه یو د سترې محکمې د مشر په توګه ټاکي.

افغانستان د ۱۹۱۹ ز کال د اګست په ۱۹مه له انګلستان څخه خپلواکي اخیستې او هر کال دغه ورځ د خپلواکۍ د ورځې په نوم په کې نمانځل کېږي.

افغانستان په وچه پورې تړلی وروسته پاتې او د اوږدې جګړې له امله وران شوی هېواد دی. افغانستان د تېرو ۴۱ کلنو جګړو له بېساري مادي، انساني او معنوي ورانیو او تباهیو څخه مخکې هم د نړۍ له وروسته پاتې او بېوزله هېوادونو څخه و. سره له دې چې افغانستان پراخه ځمکې، بهاند سیندونه، زیار ایستونکي ځوانان، لویې کانې زېرمې، پراخ ځنګلونه او ورشوګانې او تکړه ملي کادرونه او ډېر نور پرمختیایي امکانات درلودل؛ خو د پرمختګ بهیر یې د بېلابېلو حکومتونو د نه پاملرنې له امله خورا کمزوری دی.

د اعلحضرت محمد ظاهرشاه په وخت کې د مرکزي پلان جوړونې اقتصادي تګلاره د هېواد د اقتصادي رسمي سیاست په توګه ومنل شوه. د هغه وخت پیاوړی لومړی وزیر محمد داوود د دې تګلارې متفکر مغز بلل کېده. نوموړي په هېواد کې بنسټیزې پروژې تطبیق کړې چې مهمې هغه یې د هلمند او ارغنداب پروژه، د ننګرهار کانال او کرنیز فارمونه، د سیمنټو دوه فابریکې، د پوهنتونونو پراختیا او ځینې نورې یادولی شو.

اوس اوس په افغانستان کې صنعتي تولیدات ډېر کوچني دي. دولت او د اقتصاد خصوصي سکټور ته پکار دي چې دې برخې ته پام وکړي او د صنعتي تولیداتو د زیاتولو په برخه کې پانګونه او کار وکړي. د دغه هېواد دولت باید د صنایعو د پرمختګ لپاره بنسټیزې پروژې، اورګاډي، ډاډمن امنیت او قانوني ملاتړ پلی کړي او کورني او بهرني پانګوال دې ته وهڅوي، چې خپله پانګه او امکانات په دې سکټور کې پر کار واچوي.

ښوونه او روزنه په افغانستان کې د هر راز ټولنیز اقتصادي پرمختګ لپاره متخصصو او مسلکي کادرونو ته اړتیا لري. د ښوونې او روزنې سیستم باید داسې جوړ شي چې ځوانانو ته مسلکي زده کړه ورکړي.

افغانستان اساساً زراعتي هېواد دی، ارقام وایي چې د افغانستان ۷۵ سلنه خلک په کرنه او د څارویو پر روزنه بوخت دي او د هېواد ۳۴ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي. په دغه هېواد کې د کرنې چارې په ابتدایي او عنعنوي وسایلو تر سره کیږي. په تېرو شلو کلونو کې د عصري ماشین الاتو استعمال یوڅه زیات شوی دی.

پاکستان، ایران، المان، انګلستان، سویس، هندوستان، سعودي عربستان، بلجیم، امریکا، فرانسه، ازبکستان، متحده عربي امارات، استرالیا، برازیل، کاناډا، ډنمارک، مصر، چین، ایټالیا، هانګ کانګ، جاپان او تاجکستان د دغه هېواد لوی تجارتي شریکان دي.

د دغه هېواد د ټلیفون کود ۰۰۹۳ او د انټرنېټ کود یې AF دی چې څه باندې پنځه میلیونه کسان یې ورته لاسرسی لري.

افغانستان د مسیح له میلاد څخه مخکې بیا تر دویمې میلادي پیړۍ پورې، له ایران او د منځنۍ آسیا له هیوادونو سره ګډ سیاسي او فرهنګي تاریخ درلود او له دویمې میلادي پیړۍ څخه بیا د اسلام د مبارک دین تر حضور پورې (د کوشانیانو او یفتلیانو له حکومتونو څخه پرته)، د ملوک الطوایفي په ډول اداره کېده. د اسلام له ظهور څخه بیا د ابدالیانو تر حکومت پورې د افغانستان خاوره د لوی خراسان په نوم، د اسلامي خلافت او د اسلامي تمدن یوه برخه شمېرل کېده او د سیمه ییزو امیرانو(طاهریان، صفاریان او غزنویان) لخوا اداره کیده او د ایران او منځنۍ اسیا له هیوادونو سره یو ګډ سیاسي واحد یې جوړاوه. خو اوسنی افغانستان د ۱۷۴۵ ز کال(۱۱۲٦) د ابدالي احمدشاه خان په لاس د یو خپلواک او مستقل هیواد په توګه را منځ ته شو. له شازمان خان څخه وروسته د انګریزانو لاس وهنې پیل شوې او په ۱۸۳۹ ز کال کې انګریزانو پر افغانستان باندې پوځي تیری وکړ او شاشجاع یې د افغانستان پاچا وټاکه. خو انګریزان د افغان ولس د قیامونو په واسطه له دې خاورې څخه وشړل شول. انګریزان په ۱۸۷۸ ز کال کې بیا د افغانستان پر جنوبي سیمو باندې تیری وکړ او د ګندمک نګینه تړون یې پر محمد یعقوب خان باندې تحمیله کړ، چې د هغه تړون پر اساس د افغانستان سیاسي خپلواکي له منځه ولاړه.

په ۱۹۱۹ ز کال کې د امان الله خان لخوا د افغانستان او برېټانیې د دریېمې جګړې په نتیجه کې، د افغانستان خپلواکي د موجوده سرحداتو په چوکاټ کې په رسمیت وپېژندل شوه. د ۱۳۵۲ لمریز کال د چنګاښ میاشتې په ۲٦مه، د داوود خان د کودتا په ترځ کې د ظاهرشاه سلتنطي حکومت له منځه ولاړ او د افغانستان جمهوري نظام بنه کیښودل شوه. د ۱۳۵۷ لمریز کال د غویي میاشتې په اوومه د یوې کمونیستي کودتا په سبب، د افغانستان خونړۍ بحران پیل شو چې د هغه ویرانوونکې اغیزې لا تر اوسه رواني دي. د افغانستان د ولسي اسلامي جهاد له پراختیا سره کمونیستي رژیم له جدي سقوط سره مخ شو، خو پخواني شوروي د ۱۳۵۸ لمریز کال د سلواغې میاشتې په شپږمه خپل پوځي ځواکونه افغانستان ته ولېږل او پر دغه هېواد باندې یې نظامي تیری وکړ. خو د افغانستان د ولس د اسلامي انقلاب په سبب، د کمونیستي نظام بڼه په نړۍ کې د تل لپاره نابوده شوه او روسان هم دېته مجبور شول چې د ۱۳٦۷ لمریز کال د سلواغې په ۲٦مه خپل ټول ځواکونه له افغانستان څخه وباسي. د ۱۳۷۱ لمریز کال د غویي په اتمه د ډاکتر نجیب الله د کمونیستي رژیم له نسکورېدو وروسته، د مجاهدینو اسلامي دولت په کابل کې واک ته ورسېد، خو د بهرنیو مداخلو په سبب کورنۍ جګړې پیل شوې. په ۱۳۷۳ لمریز کال کې طالبان د کندهار لخوا را پیدا او په ۱۳۷۵ لمریز کال کې د کابل زړه ته ننوتل.

په ۱۳۸۰ لمریز کال کې د بن کنفرانس په المان کې د ملګرو ملتونو په مشرۍ، د ۱۴ ورځو لپاره پرانیستل شو او د بن د تړون پر بنسټ، د افغانستان نوی اسلامي جمهوریت د ښاغلي حامد کرزي په ریاست وټاکل شو او په ۱۳۸۰ لمریز کال په کابل کې نوموړی واک ته ورسېد. په ۱۳۸۳ لمریز کال کې د بن د تړون پر اساس اضطراري لویه جرګه په کابل کې پرانیستل شوه او انتقالي دولت د ښاغلي حامد کرزي په ریاست، د دوو کلونو لپاره وټاکل شو. د اساسي قانون لویه جرګه هم په ۱۳۸۳ لمریز کال کې پرانیستل شوه، چې تر ۲۲ ورځنیو خبرو اترو وروسته، د خارجي څېړونکو تر فشار لاندې نوی اساسي قانون تصویب شو. په ۱۳۸۳ لمریز کال کې د جمهوري ریاست ټاکنې وشوې، چې د هغه په نتیجه کې د افغانستان دایمي دولت د ښاغلي حامد کرزي په ریاست د پنځو کلونو لپاره وټاکل شو.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۳۰ |
| € | ۸۷,۲۰ |
| Rp. | ٤۹۷ |
| ₹ | ۱۱۱۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۹۵,۳۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# د خلکو د منفي افکارو تر اغېز لاندې مه راځئ

ژباړه: حمیدالله حمیدي

خدای پاک (ج) خپلو بنده ګانو ته روښانه راتلونکې په پام کې نیولې ده؛ نو بیا ولې د خلکو د منفي افکارو تر اغېز لاندې راځی؟ د هغه څه د لاسته راوړلو لپاره هڅه وکړئ چې خدای پاک (ج) یې وعده درسره کړې ده. کېدای شي خلک درته ووایي:

تاسې ډېر واړه او ډېر کمزوري یاست، شخصیت مو سم نه دی او یا هم له ښې کورنۍ نه یاست. لازمه نه ده چې ټول عمر له همدې منفي افکارو سره ژوند وکړی. خدای پاک (ج) تاسې په تر ټولو ښه بڼه پیدا کړي یاست. تاسې ښه شخصیت او ښه وړتیا لری، ښه ښکاری او د پوستکي رنګ مو هم ډېر ښایسته دی. خدای پاک (ج) انسان په خپل ظرافت سره جوړ کړی دی، تاسې د یوې پېښې له مخې نه یاست پیدا شوي، بلکې تر ډېر فکر او دقت وروسته ستاسې د پیدایښت پرېکړه شوې ده. هڅه وکړئ چې د منفي لېبلونو پر ځای در باندې نوي، مثبت، دقیق او ظریف لېبلونه ووهئ او د رښتیا کولو لپاره یې لاس پکار شئ.

تاسو په خپل جوړښت کې بې جوړې یا ست

هغه مهال چې زه د ودې په عمر کې وم، د خپلو همزولو په پرتله ډېر کوچنی وم. له ښوونځي وروسته ۱۵ سانتي نور هم لوی شوم. کله به مې چې باسکېټبال لوبه کوله، له خپلو همزولو لږ تر لږه ۳۰ سانتي متره په ونه ټیټ وم. همزولو به مې راته ممپلی وایه. په ښوونځي، لارو، کوڅو او نورو ځایونو کې به مې همدا نوم اورېدو. سلام ممپلیه، سهار په خیر ممپلیه. د لوبې پر مهال به مې هم همدا غږونه اورېدل ممپلیه! څه.. څه.. ممپلیه! ان دا چې ماته به یې (o) هم وایه.

البته دغه نوم یې له ټوکو راته وایه. خو باید ووایم چې دې خبرو به یو څه اندېښمن کولم. زه ډېره لوړه ونه نه لرم. له منځنۍ نه هم یو څه ټیټ یم. او یا ویلی شم چې د نورو په څېر نه یم. ورځ تر بلې به له ملګرو سره بې روغبړه کېدم، خبرې مې کمېدلې. د دې هرڅه لامل هغه ټاپه وو چې ما نورو ته اجازه ورکړې وه چې پر ما یې ولګوي.

خو یوه ورځ مې یو کار وکړ، له تاسې هم غواړم چې همداسې وکړئ. هغه لېبل مې له ځانه لرې کړ. په دې اړه مې فکر وکړ چې زه خدای پاک (ج) پیدا کړی یم او خدای پاک (ج) هېڅکله په خپل کار کې تېروتنه نه کوي او هغه ډېر لوی ذات دی. خدای پاک (ج) زه هغه ډول پیدا کړی یم، څه ډول یې چې غوښتل. کېدای شي کوچنی وم، خو دینامیت (پټاقی) هم په کوچنیو پاکټونو کې پلورل کېږي. په همدې ترتیب تاسې هم ډېر جګ، ډېر ټیټ، ډېر ځوان او یا ډېر زاړه نه یاست. خدای پاک (ج) وایي، تاسې یو شهکار یاست، نو چې داسې ده اورې مو وښوروئ، سر مو پورته ونیسئ، د مایوسۍ لېبل له ځانه لرې کړئ او د ویاړ لېبل در باندې سرېښ کړئ.

نن سبا په ښوونځیو کې دا ډول ډېر جنجالونه لیدل کېږي. د بېلګې په توګه یوه مور وایي:

زوی یې ډېر ذکي او د مطالعې مینه وال دی. ټوله ورځ له کتاب سره بوخت وي. ان د تفریح پر مهال کله چې نور زده کوونکي پر لوبو بوخت وي، دی ریاضي زده کوي. نور ماشومان یې پر له پسې ازاروي او نه پرېږدي چې درس ووایي. که سخت کار کوی، درس وایی، مطالعه کوی، خلک مو د کتاب چینجی بولي او یا مو په نورو نومونو یادوي، ځکه دوی اړ دي چې څو کاله وروسته مو باید ولسمشر وبولي. هغه وخت بیا دې ته نه وزګارېږي چې په ناوړه نومونو مو یاد کړي، ځکه دوی به ټول ستاسې تر لاس لاندې کار کوي او پر کار به بوخت وي. مه پرېږدئ چې د خلکو منفي فکرونه مو له هغه څه لرې کړي چې خدای پاک (ج) ورته پیدا کړي یاست.

یو ټاپه چې ډېری کسان یې پر خپل ځان وهي، هغه د (معمولي) توب ټاپه ده. دوی ځان ته د یوه معمولي کس په سترګه ګوري. زه یو معمولي انسان یم، مخکې هم خلکو راته ویلي وو، زه له نورو کومه بېله ځانګړنه نه لرم، جوئل! زه کوم ځانګړی څوک نه یم، بلکې د نړۍ د اوو میلیاردو انسانانو له ډلې یو یم.

باید پوه شئ چې تاسې هېڅکله د یوه معمولي ژوند لپاره پیدا شوي نه یاست. تاسې په خپل د ننه کې ډېر تازه او لوی زړې (تخمونه) لری. تاسې د دې لپاره پیدا شوي یاست چې یو تاریخ جوړ کړی. داسې نه ده چې تاسې وزېږی، له دنیا لاړ شی او هېڅوک پوه نه شي چې تاسې چېرته وی او څه مو وکړل. تاسې د دې لپاره پیدا شوي یاست چې له ځانه یو څه په میراث پرېږدئ. خدای پاک (ج) تاسې ته داسې یوه دنده سپارلې چې له تاسې پرته یې بل څوک نه شي تر سره کولای. خدای پاک (ج) تاسې ته ارزښت درکړی او په ارزښت درته قایل دی. خدای پاک (ج) تاسې ته وړتیا، علاقه، مینه او لېوالتیا درکړې ده. تاسې د هغه متعال رب د پروګرامونو یوه برخه یاست. تاسې داسې یو څه وړاندې کولای او سرته رسولای شی، چې بل څوک یې نه شي کولای. هېڅوک ستاسې په څېر وړتیا، څېره او شخصیت نه لري. د معمولي کس ټاپه مه درباندې لګوئ، که تاسې فکر کوی چې یو معمولي او عادی کس یاست، بیا به همداسې عادی وی او هېڅ کوم لوی کار به تر سره نه کړی.

حقیقت دا دی چې په اصل کې ستاسې جوړښت ته په کتو هېڅ داسې نښه نښانه نشته، چې ثابته کړي تاسې دې یو معمولي کس وی. خدای پاک (ج) ستاسې د وجود په جوړښت کې خپله مهرباني ګډه کړې ده. ستاسې په رګونو کې د خدای پاک (ج) قدرت جپې وهي. ستاسې هیلې به پر واقعیت بدلېږي، داسې چې له تصوره لوړ کارونه به تر سره کړی. که غواړئ دغه څه پر حقیت بدل شي او هغه څه چې خدای پاک (ج) ورته پیداکړي یاست ورته ورسېږی، لومړی کار چې باید تر سره یې کړئ، دا دی چې له ځانه د معمولي کس ټاپه لرې کړئ او پر ځان دغه نوی لېبل ولګوئ چې عبارت دی له:

شکهار، ارزښت لرونکی او په خپله بڼه کې بې بېلګې کس.

# بیاني: په بلخ کې به د ناامنیو له کبله د رای اچونې له نیمایي زیات مرکزونه تړلي وي

په بلخ کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون چارواکي وایي، چې په دغه ولایت کې به د رایې اچونې د ۳۱۵ مرکزونو له ډلې د ناامنۍ له کبله نږدې نیمایي مرکزونه تړلي وي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په دوحه کې د طالب او امریکایي پلاوو په خبرو کې پر مهمو مواردو تر هوکړې وروسته، ټاکل شوې چې د دواړو لورو ترمنځ به هوکړه ډېر ژر لاسلیک شي او ښايي له دې کبله د افغانستان ولسمشریزې ټاکنې وځنډېږي، خو افغان حکومت ټینګار کوي چې ټاکنې کېږي او تازه د کورنیو چارو وزارت ویلي چې د ټاکنو د امنیت لپاره یې بشپړ امنیتي پلان نیولی دی.

بلخوا د بلخ د ټاکنو کمېسیون مسوول محمد ایوب بیاني هم ویلي چې په دغه ولایت کې د ټاکنو لپاره بشپړ چمتووالی نیول شوی دی.



هغه زیاته کړې چې په را روانو ټاکنو کې د ګډون لپاره د خلکو د هڅونې په موخه یې له دوو اونیو راهیسې د عامه پوهاوي کمپاین پیل کړی دی.

د بیاني په خبره، هڅه کوي چې د ټاکنو په تړاو د عامه پوهاوي پروګرامونه د مزارشریف ښار تر څنګ، په ولسوالیو کې هم تطبیق کړي، خو په خبره یې، په ځینو سیمو کې یې امنیتي ستونزې د کار پر وړاندې خنډ ګرځي.

د بلخ د ټاکنو کمېسیون د رییس په خبره، په بلخ ولایت کې ټولټال ۳۱۵ ټاکنیز مرکزونه موجود دي چې له نیمایي څخه زیات یې تر لوړ امنیتي ګواښ لاندې دي.

هغه ویلي: «له بده مرغه زموږ له نیمایي څخه زیات مرکزونه دمګړۍ یا په بشپړ ډول سقوط دي او یا هم تر لوړ امنیتي ګواښ لاندې دي، په دې حساب بلخ کې به زموږ سم نیمایي ټاکنیز مرکزونه تړلي پاتې شي».

نوموړي زیاته کړې، امنیتي ځواکونو ډاډ ورکړی چې دوی به په ځینو سیمو کې تصفیوي عملیات وکړي او په دې ډول به په ډېرو هغو مرکزونو کې د رای ورکولو زمینه برابره شي، چې اوسمهال له ننګونو سره مخ دي. چمتال، چهاربولک، دولت اباد، شورتېپه، شولګر او زارع هغه ولسوالۍ دي چې د بلخ ټاکنو کمېسیون په خبره، د ټاکنو پروسې پر وړاندې جدي امنیتي ننګونې پکې موجودې دي.

# مېک: په کانونو او پټرولیم وزارت کې لاهم پراخ فساد شته

د څارنې او ارزونې ګډې کمېټې د کانونو او پټرولیم وزارت په تړاو خپلې لومړنۍ څېړنې له رسنیو سره شریکې کړې دي.

دغې کمېټې د کانونو او پټرولیم وزارت ته د اصلاحاتو په خاطر ۱۹۱ سپارښتنې کړې، چې ۲۷ یې پلې شوې، په ۴۸ یې کار روان دی او پاتې نورې تر اوسه نه دي عملي شوې.

د څارنې او ارزونې کمېټې چارواکي وایي چې یاد وزارت د فساد پر وړاندې په وروستیو څلورو میاشتو کې ګامونه اخیستي دي، خو د دغه وزارت په اداري سیستمونو کې لاهم په پراخه توګه فساد شته.




د دغې کمېټې د دارالانشا مشر میوند روحاني ویلي: «زموږ سپارښتنه دا وه چې دوی باید ټولو بستونو ته وړ کسان ونیسي، زموږ تېرې موندنې دا وې چې په دغه وزارت کې ډېری ګومارنې غیر مسلکي، یانې داسې کسان وو چې له ادبیاتو فارغ وو، خو په جیولوجي کې یې کار کاوه. نو زموږ یوه سپارښتنه دا وه چې دوی باید وړ او مسلکي کسان وګوماري».

په ورته مهال د روڼتیا څار سازمان مسوولین په کانونو او پټرولیم وزارت کې د مهمو ستونزو یادونه کوي او وایي چې په دغه وزارت کې تر اوسه اساسي اصلاحات نه دي راغلي.

دغه سازمان وایي چې د کانونو او پټرولیم وزارت کې سیاسي او نامسوولانه مداخلې کېږي او دغو مداخلو فساد او د کانونو ناقانونه استخراج ته فرصت برابر کړی دی.

بلخوا د ملي شورا غړي وایي چې د کانونو او پټرولیم وزارت د بې کفایتۍ له امله لاهم د افغانستان پر مهمو کانونو وسله وال مخالفان حاکم دي. دوی وایي چې اوس هم په ډېرو ولایتونو کې د کانونو ناقانونه کېندنه روانه ده.

د یادونې ده چې د څارنې او ارزونې کمېټې په کانونو او پټرولیم وزارت کې خپلې څېړنې په ۲۰۱۸ ز کال کې پیل کړې وې. تردې مخکې یادې کمېټې په بهرنیو چارو وزارت کې هم د غیر مسلکي او سیاسي ګومارنو په تړاو راپور خپور کړی و.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

دوشنبه د ۱۳۹۸ د سنبلې څلورمه | د ۲۰۱۹ د اګسټ ۲۶مه | ۴۲۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۳٤ | ۳۷ | ۳٦ | ۳۸ | ۳۲ |
| ۱۹ | ۱۸ | ۱۸ | ۲٤ | ۲۷ | ۲۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۵۳ | لمر ختل ۰۵:۲۱ | ماسپښین ۱۱:۵٦ | مازدیګر ۰۳:۳٦ | ماښام ۰٦:۳۰ | ماخوستن ۰۷:۵۹

## نړۍ



# اسراییل: په سوریه کې پر ایراني هدفونو په بمبارۍ کې لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده

۳

## ایران د ډیموکراسیو د دفاع پر سازمان او د دغه سازمان پر مشر بندیزونه لګولي دي



د ایران د بهرنیو چارو وزارت د ډیموکراسیو د دفاع پر سازمان او د دغه سازمان پر مشر تازه بندیزونه لګولي دي.
د ډیموکراسیو د دفاع سازمان په واشنګټن کې مېشت او له هغه ځایه د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې خپل فعالیتونه پر مخ وړي.
ایران ویلي چې پر دغه سازمان یې له دې کبله بندیزونه لګولي، چې د ایران پر ضد بندیزونو او اقتصادي تروریزم ته یې وده ورکړې ده.
د ایران د نیمه دولتي خبري اژانس فارس په ګډون، ایراني رسنیو د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت یو بیان خپور کړی چې په هغه کې ویل شوي وو، چې د ډیموکراسیو د دفاع سازمان او د هغې اداري مشر مارک دوبویتز د ایران پر ضد کمپاین کړی، دروغ یې خپاره کړي او په قصدي ډول یې د ایران مهمو ګټو ته تاوان رسولی دی.
خو مارک دوبویتز د ایران د دغه اقدام پر وړاندې په غبرګون کې ویلي، چې د هغه سازمان د ایران د رژیم له لوري په هر ډول نوملړ کې خپل شمولیت د ځان لپاره د ویاړ خبره ګڼي.
د یادونې ده چې د ډیموکراسیو د دفاع سازمان له واشنګټنه په کلکه د ایران او نړیوالو قدرتونو ترمنځ، په ۲۰۱۵ ز کال کې د اټومي هوکړې مخالفت کاوه.

## برېتانیا فارس خلیج ته خپله درېیمه جنګي بېړۍ هم استولې ده



برېتانیا اعلان کړی چې درېیمه جنګي بېړۍ یې هم فارس خلیج ته استولې، څو هلته د برېتانوي کښتیو ازاد تګ راتګ ډاډمن کړي.
د برېتانیا د دفاع وزیر بین ولس ویلي، چېرې چې د برېتانیا بیرغ لرونکې بېړۍ تګ راتګ کوي او خوندیتوب یې له خطر سره مخ وي، دوی به یې د ملاتړ لپاره هلته و اوسي.
د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت ویلي، د اېچ اېم اېس دیفینډر په نوم دا جنګي بېړۍ به د فارس په خلیج کې د مونټروس او کینټ له جنګي بېړیو سره یو ځای شي، څو هلته په هورمز تنګي کې د برېتانیا بیرغ لرونکو بېړیو تګ راتګ خوندي کړي. دا په داسې حال کې ده چې په هورمز تنګي کې د کښتیو د ازاد تګ راتګ پر وړاندې وروسته له هغې اندېښنې زیاتې شوې چې د ایران سپاه پاسداران ځواک د برېتانیا یوه بیرغ لرونکې بېړۍ ونیوه. د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ هم په فارس خلیج کې د غیر قانوني لاسوهنې او ځورونې پر وړاندې د بېړیو د بدرګې په برخه کې د نړیوالو هڅو غوښتنه کړې.
امریکا اندېښنه لري چې ایران په هورمز تنګي کې چې له خلیج څخه د تېلو د انتقال مهمه لاره ده، د لوېدیځو بېړیو پر وړاندې ستونزې جوړوي.
برېتانیا، ځینو نورو لوېدیځو هېوادونو او د خلیج ځینو دولتونو د ټرمپ دې غوښتنې ته مثبت ځواب ویلی دی.

## گراهام: با خروج امریکا از افغانستان باید منتظر ۱۱ سپتامبر دیگری باشیم



لیندسی گراهام، سناتور برجستهٔ امریکایی باردیگر از خروج نیروهای امریکایی از افغانستان، هشدار داده‌است.
این سناتور جمهوری‌خواه، گفته‌است که با خروج نیروهای امریکایی از افغانستان، باید منتظر یازدهم سپتامبر دیگر باشیم.
این در حالی است که در یازدهم سپتامبر سال ۲۰۰۱ میلادی، هنگامی که گروهٔ طالبان بر افغانستان حاکم بود، گروهٔ القاعده دو طیاره را بر برج‌های تجارتی در نیویارک کوبیدند و نیز وزارت دفاع امریکا (پنتاگون) را آماج قرار دادند که در آن ۲۹۹۳ تن کشته شدند.
لیندسی گراهام، در گفت‌وگو با شبکهٔ خبری فاکس نیوز از تکرار این رویداد هشدار داده‌است: «برای مبارزه با گروه‌هایی مانند القاعده و داعش در افغانستان نمی‌توان به طالبان اعتماد کرد».
گراهام با بیان این‌که طالبان توانایی مبارزه با تروریزم در افغانستان را ندارد، افزود: «زمانی که از کارشناسان دربارهٔ خروج نظامیان امریکا از افغانستان و عواقب این تصمیم سوال می‌شود، آن‌ها پاسخ می‌دهند که باید منتظر یک ۱۱ سپتامبر دیگر باشیم».
این سناتور امریکایی، پیش از این نیز بارها از خروج و توافق امریکا با طالبان هشدار داده بود. او هفتهٔ پیش، توافق با طالبان را اشتباه بزرگ تر از امضای توافق نامهٔ هسته‌یی با ایران خواند.
این در حالی است که منابع آگاه از نهمین دور گفت‌وگوهای طالبان با امریکا در دوحه، می‌گویند که در این دور گفت‌وگوها، دو طرف بر سر خروج کامل نیروهای خارجی از افغانستان به توافق رسیده‌اند.
به گفتهٔ این منابع، طالبان و امریکا توافق کرده‌اند که تمامی نیروهای خارجی، در مدت پانزده تا بیست ماه از افغانستان خارج شوند.
دور نهمین گفت‌وگوهای میان نماینده‌گان امریکا و طالبان، روز پنج‌شنبه (۳۱ اسد) در دوحه آغاز شدند.

## ژوند

## ارواپوهنه او د (هوښ) کلمه




یو څه چې موږ یې په ورځنیو چارو کې تل کاروو، هغه د هوښ کلمه ده. هغه ماشومان چې ښې خبرې کوي او ښه درس وايي، هغوی ته هوښیار وايو. بریالیو محصلینو، زده کوونکو او کاریګرو کسانو ته هوښیار وايو. دغه راز حاضر ځوابه خلکو ته هم هوښیار ویل کېږي. په زده کړه، کار او د ژوند په ټولو چارو کې د بریالیتوب اصلي عامل ته هوښ ویلای شو.
هوښ کله ارثي او کله هم محیطي پدیده ګڼل کېږي؛ خو کله چې متوجې شو، نو ویلای شو چې د بریالیتوب یوازینی عامل هوښ نه دی.
ډېر کسان شته چې لوړ هوښ لري، خو دومره بریالي نه دي.
ارواپوهنه تاسو ته در زده کوي چې د نه ناکامۍ اصلي عوامل څه دي او د دلایلو او پایلو له وړاندې کولو وروسته به تاسو ته قناعت درکړل شي، چې محیط او ارث دواړه د هوښ په بشپړولو او پیاوړي کولو کې مهم رول لري او هېڅ یو په یوازې توګه دغه رول نه شي لوبولی. په همدې اساس به د ځان لپاره د یوه داسې محیط د ټاکلو او رامنځته کولو په اړه چې ستاسو د ماشومانو د هوښ په پیاوړي کولو کې مرسته کوي، دقت وکړئ.

## الزایمر

الزایمر ناروغی او د عقل زوال نن سبا له پنځو میلیونو ډېر امریکایي وګړي له ستونزو سره مخ کړي دي. څېړنو ثابته کړې چې په اتو امریکایانو کې یو یې پر دې ناروغۍ اخته دی. په امریکا کې له شپږو هغو عواملو چې د زیاتې مړینې لامل کېږي، یو یې هم د الزایمر ناروغي ده چې د درملنې لازمې لارې چارې یې لا هم سمې نه دي په ګوته شوې. د الزایمر پر ناروغۍ د اخته وګړو، دوه پر درېیمه برخه ښځې دي. د څېړنو له مخې پر الزایمر ناروغۍ د اخته ۱٦ سلنه ښځو عمرونه له ۷۱ کلونو زیات ښودل شوي دي. خو په نارینه وو کې بیا ۱۱سلنه هغه کسان پر الزایمر ناروغۍ اخته دي، چې عمرونه یې له ۷۱ کلونو لوړ دي. څېړنو ثابته کړې چې لوړ عمر الزایمر ناروغۍ ته لار هواروي. د څېړنو پایلې دغه راز ښيي چې پر الزایمر ناروغۍ د اخته کسانو له درېیو دوه برخې یې ۸۵ کلن دي. لږ تر لږه ۴۵ سلنه کسانو چې پر دې ناوړه ناروغۍ اخته شوي دي ویلي، چې هېڅ داسې نښې نښانې یې په لومړي سر کې نه دي لیدلې، چې پر وړاندې یې لاس پکار شوی وای.

